مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهندوی آصف بهاند ۲۰۲۰/۰۹/۲۵

# شمسيه، د بريا يو هسک څلی



د يوه ښوزلي کاله پېغله چې ځينې يې «ناقص العقله؟» ګڼي؛ وتوانېده چې د يولک و دري اوياړزه ګډون کونکو په منځ کې تر ټولو لوړه نومره ترلاسه کړي او د خپلې ښوزلي کورنۍ، د افغانستان د مظلومو ښځو او پېغلو او د ټول هېواد له پاره د بريا د يو هسک څلي په توګه داسي وځلېږي لکه د نرۍ ترټولو قيمتي الماس.

دا تريخ حقيقت اوس ټوله نړۍ مني چې جګړې زموږ د ټولنې او هيواد د ټولو برخو بنسټونه راويجاړ کړي، په تيره ښوونه او روزنه او د نوي نسل د روزلو لړۍ، چې پايله يې زموږ د هيواد د ځلورو نسلونو له تعليمه سره مرورېدل، بې سواده يا کم سواده پاتې کېدل دي؛ خو له دې ټولو نا خوالو سره، سره زموږ نوی نسل زدکړو ته ليوال و او دی، هر کله او هر چيرې چې ډير لږ امکانات هم ورته برابر شوي دي، له هغو نه په استفادې سره يې، پر ځان هر رنګ زحمتونه ګاللي دي او د نوي عصر نويو زدکړو ته يې د خپل تېتر او ذهن کتاب پرانستی دی او زدکړې يې کړې دي؛ چې يوه غوره بېلګه يې زموږ د وطن همدا **شمسيه** نومې پېغله ده چې د خوارۍ او غريبۍ له تيارو خونو ځخه يې وکولای شول چې داسې سر او غاړه راهسکه کړي چې د برياوو ځلې شي، د وطن د نورو پېغلو او ځوانانو له پاره د يو درس بنه غوره کړي او دا وښيي دا هم کېدونکي ده چې په زحمت سره سړی کولای شي د برياوو لوړو څوکو ته ځان ورسوي.

ما خو ځلې په ټينګار سره **ويلي** دي:«

**ـ د هغو خلکو او قوم تباهي ډيره نږدې ده چې له سواد، کتاب، مطالعې، تعليم، ښوونځي او پوهنځي نه ځان لرې ساتي!**



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

**ـ دا ښه په یاد ولرئ: تر څو نوی نسل په نوې او مدرنه ښه په سمه توګه و نه روزل شي، هیڅکله د سمون تمه و نه کړئ. د نوي نسل له روزلو پرته به تل له ستونزو او بدمرغیو سره لاس ګریوان اوسئ!**

**ـ د نـوي نسل د روزلو له پاره هـر پل چې اوچـتـیږي، زه یـې داسې انګیرم چې د نـوي ژوند د کلا پر دیواله یوه نـوې او زریـنه خښته ایښودل کیږي.**

**ـ که په یوه ټولنه کې زدکړي لږ او د ګوتو په شمېر وي یا هیڅ نه وي، هغه ټولنه او هغه خلک هره ورځ لا هر ساعت له لسګونو ستونزو سره په عملي ډول لاس ګریوان وي.**

**ـ په ټوله نړۍ کې دا یوه منل شوې خبره ده چې: چیرې چې ښونکی وي، هلته ډیوې وي، هلته رڼا وي او چیرې چې ښونکی نه وي، هلته نه ډیوې وي او نه د رڼا څرک.**

**ـ زه په دې عقیده یم چې د نوي نسل سمه روزنه، د ژوند نیالګي ته اوبه ورکول دي. که نوی نسل په علمي ډول، د اوسنۍ زمانې له غوښتنو سره سم و نه روزل شي، د ژوند چینه او د راتلونکي نسل ونه مو وچه وګڼئ!»**

د همدې خبرو په رڼا کې ویلای شو چې شمسیه د همدې زیارونو په ګاللو سره وتوانېده چې ځان له تورو تیارو څخه راوباسي او د رڼا پر لوري داسې حرکت وکړي چې دا نسل او لا نور نسلونه په ځان پسې ور وکاږي چې د دې د زحمتونو پر لار پل کېږدي او خپلو موخو ته د رسېدو له پاره د دې له تجاربو نه استفاده وکړي
د فرهنګیانو هغې ډلې چې له ډېرې مودې راپه دې خوا د تعلیم د عامېدو او د نوي نسل د سمې او علمي روزنې پلوي و او ویل به یې چې په مثبت لوري د خلکو د ژوند د هر اړخیز بدلون له پاره یوازینۍ لار تعلیم دی، د همدې دلیل له مخې باید په تعلیم او زدکړه باندې ډېر ټینګار وشي، که ډېر په ابتدایي ښه هم وي خو د تعلیم د نهضت کارکونکي او لارویان نور هم تشویق او وپالل شي.
د همدغو مبارزو یو ثمر د سږني کانکور ټول بریالي ځوانان دي او سرلښکر یې شمسیه ده چې اوس یې په خپلې بریا سره د ټول هېواد او لا نړۍ میډیا وخوځوله او دا یې وښوده چې افغان ځوان نسل بریا په جګړې، وژنو، وینو تویولو او له خلکو نه په ژوند اخیستلو کې نه؛ بلکې په زدکړه او تعلیم کې ده.
د سږني (۱۳۹۹) کال د کانکور د پیل له پاره ما یوه مقاله ولیکله او د دوه زره شلم کال د جولای پر شلمه مې خپره کړه. د هغې مقالې په یوه برخه کې راغلي دي:
«په زدکړو پسې د ځوانانو دا حرکت او خوځون، دا ثابتوي چې دوی نور نه غواړي چې د نیابتي جګړې سرتېري اوسي او د هغه څه او هغه چا له پاره خپلې وینې تویې کړي چې نه شتون لري او نه یې دوی ته ګټه رسېږي؛ دوی غواړي چې د پوهې په ترلاسه کولو سره خپل وطن، کور کلی خپله ورغوي، ټولنې او خلکو ته نیکمرغي ور په برخه کړي، چې نور د خیرات لاس اوږد نه کړي.
زموږ اوسنی نسل د رڼا او تیارې استازي پېژندلي دي او د رڼا مشعل (زدکړو) د ترلاسه کولو تکل یې کړی دی.
زه ډاډه یم چې د وطن نوی نسل به په خپل دې تکل او مزل کې بریالي وي، ځکه چې دوی پر حقه لار روان دي.
د پوهې زدکړه د هر چا حق دی، په تېره د ځوانانو، هر څوک باید د دوی له دې انساني پروګرام سره تر خپلې وسې پورې مرسته وکړي او که څه مرسته نه شي کولای، باید خنډونه ورته رامنځته نه کړي.
زه چې سږ د کانکور په ازموینه کې د ځوانانو دې شوق او هېلو ته ګورم، د پوهې د ډېوو د لاډېرېدو او د وطن د ابادۍ هېلې راته پیدا کېږي. د ځوانانو د شوق او هیلو تر څنګ د ګنو روڼ اندو افغانانو نظریات، هیلې او خوښې مې نور هم په زړه کې د نوي نسل د روزلو هیلې پیاوړې کوي.»




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د یادې ازموينې په ځينو عکسونو کې لېدل کېږي چې د آزموينو ګډون کونکي پر خاورو او ازغيو ناست دي او د ازموينو په پاڼو کې د خپلې بريا او د لوړو زدکړو دايرې ته د ور ننوتو هڅه کوي؛ د دې کانکور د برياليو ځوانانو کاميابي د همغو زحمتونو د زغملو پايله وګڼئ.

ما ډېر ځلي د ځوانانو د هڅونې او تشويق په پار **ليکلي** دي او په وار ـ وار سره مې پر دې خبره ټينګار کړی دی چې:

**«زه ټوپکوال، وژونکی او قاتل قهرمان نه ګڼم، زما له پاره قهرمان هغه څوک دی چې د خرافاتو پر ځای د علم پلوي او لاروی وي، د سواد زدکړې ـ ښوونځي او پوهنځي پلوی وي، د پوهې د تر لاسه کولو او نوي نسل په روزلو کې عملي کار وکړي، زما قهرمانان هغه څوک دي چې د راکټونو په ځای کتابونه ويشي، ښونځي پرانيزي، په نوی بڼه د نوي نسل د روزلو په فکر کې وي او عملي کار ورته کوي.»**

په سږني کانکور کې د شمسيې بريا چې د يولک و دري اويازره پيغلو او زلميانو په دله کې د لومړي مقام تر لاسه کول و او د بريښنا په څېر په چټک ډول د ټولې نړۍ په تېره د افغانانو عکس العمل او تشويقي پيامونه، شعرونه، ستاينې او... دا ښيي چې ټول خلک په تېره نوی نسل له زدکړو او پرمختګ سره څومره او څه ډول مينه لري. دلته به د شمسيې د بريا په خاطر د ځينو هيوادوالو نظرونه او پيامونه را واخلم:

لويو خبري آژانسونو او ويبپاڼو د شمسيې د بريا خبر خپور کړ. دا يې يو څو بېلګې دي:

بي بي سي **پښتو**،

بي بي سي **فارسي**،

په **تاند** ويبپاڼه کې.

دغه راز د ټولنيزې ميډيا ګڼو کارنو او روڼ اندو خپل نظرون او پيامونه په خورا وطني مينې سره د بريالۍ شمسيې د بريا په پار څرګند کړي دي چې دلته به يې څو بېلګې راواخلم:

د ټولنيزې ميډيا دا کارن **داسي** پرې وياړي، لکه خپله لور يې چې وي:

«د وطن نازنيني لور کې!

ته د افغانستان وياړ يې، ته د افغانستان پانګه يې، ته د دې وطن د مفاخرو شمله يې، ته اوس د دې خاورې د څلويښتو مليونو انسانانو د زحمت کشۍ، زيارکښۍ او روښانه ايندې په لېرې افقونو کې له وړانګو ډکه ډيوه ګڼې يې.

دا خبره غلطه ده چې د دې خاورې وياړلي برجونه او د ترخو ماتو سنګرونه انفرادي او قبيلوي دي، نن ته وياړ يې، څومره چې ته د ملي رڼا د ډيوه ګۍ وړانګه يې هغومره مزاري د جنګي وياړ څيره نه لري. موږ له اختلافي مرګ زيږونکو پديدو څخه مخ اړوو او د نوي ژوند د شمعو زرينو پلوشو ته د انسان د ازادۍ او نيکمرغۍ سندره زمزمه کوو.

د دره صوف د ډېرو د سکرو دغريب مزدور لور دې، د افغانستان د مستقبل پر منبر سرفرازه وې!»

يو قلموال بيا خپل نظر **داسي** څرګندوي:

«شمسيې بي بي ته دې په کانکور کې د لوړې نومرې ګټلو بريا مبارک شي!
په سږني کانکور کې لسو لوړو نومرو ګټونکيو او ټولو برياليو ته هم مبارکي وايم !
شمسيه بي بي، که د تحجر او شاتګپالنې خونړيو داړو او منګولو پرېښوه، ډاکټره به شي، زه او زما همزولي به بوډاګان يو، درملنه به مو وکړي، د يوه ماشوم پر تپ به پټۍ کېږدي، يوه مېرمن به له مرګه وژغوري...
شمسيه بي بي روانه ده، چې د دې وطن (انسان) ته ښېګڼه ورسوي او زموږ هغه نيمګړی پېژاند، نومهالی تاريخ او نړيوال وياړ رابشپړ کړي، چې د جګړې په خونړۍ توره غوڅ شوی دی .
شمسيه بي بي تر ډېرو دروغجنو وياړونو هسکه ځلېږي او تر ډېرو خونړيو اتلانو پورته د وياړ وړ ده .
که چا درنه د اوسمهالي زماني کوم افغان قهرمان پوښتنه کوله، نو شمسيه او د دې په شان نور ځلنده افغانان ورو‌پېژنئ، باور لرم پرې وبه نه شرمېږئ.»


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځېر و لولئ

د عجیبو ترکیبونو شاعر ښاغلي عزت الله ځواب **خپل** احساسات د شعر په ژبه داسې کړي دي:

چې شنه شوله خندا کې تکه سپینه شوه جلۍ
وږمې یې شولې تولې لونګینه شوه جلۍ!

له ورکو نه خو ډېره مخکې خپل هدف ته لاړه
له جونو نه هم میره شوه نیازبینه شوه جلۍ

ډاکتره شوه د خپل خوارېږه وطن د رنځورانو!
طالبه نه کافره نه بې دینه شوه جلۍ؟

ماښام یې د کارګر پلار د لاسو تناکي ښکل کړې
په سره ټیکري کې نوره هم رنګینه شوه جلۍ

معلومه ده نړۍ کې یې سیالي نه پیدا کیږي!
ځوابه چې افغانه شوه، سنګینه شوه جلۍ!



امید اڅک بیا **داسې** ویلي دي لکه خپله خور یې چې بریالۍ شوې وي:

«ښنګه چل دی؟

د شمسیه خورکی کورنی نن

ویډیو په لیدلو سره به دې هغه کاذب غرور د شرمنده ګی احساس وکړي؟ د شمسیه خورکی قدرمن پلار او کورنی یې درته نن غیرتیان ښکاري که بیغیرته؟

په خپلو بینا سترګو دې ولیدل چې نن ورته ټول ولس څومره درناوی وکړ؟ ودې لیدل چې نن ټول هیواد، ټولو ورونه قومونه او ټول ملت پرې ویاړي؟


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

له دې ثابتېږي چې په درس ويلو او زده کړو ته زموږ د خويندو په تګ شرم نه؛ بلکې وياړ دی.
شرم د هغه چا لپاره په کار دی چې په ټول کلي کې يې يوه ښځينه ډاکتره نه وي او دی بيا هم خپلې لورګانې او د کور ښځينه ښوونځي او زده کړو ته نه پرېږدي.

راځئ چې نور له کاذب او پريوتي تش په نامه غرور څخه لاس واخلو او په دغسې سالم رقابت کې د خپلو نورو هيوادوالو سره د سيالۍ ميدان ته ودانګو.

بله لاره نشته...»

د سپوږمۍ راډيو له آدرسه ښاغلي احسان زهير دا معلومات **خپور** کړی دی:

«شمسيه څنګه د کانکور عمومي اول نمره شوه:

د ۱۳۹۹ لمريز کال د کانکور عمومي اول نمره شمسيه د محمد نسيم لور په کابل کې زېږېدلې ده. نوموړې د يوې متوسطې کورنۍ غړې ده او په خبره يې يوازې يو ځل يې د کانکور امادګي کورس ويلی دی. شمسيه وايي، پلار يې په سمنګان کې کان کېندونکی دی. نوموړې زياتوي، پلار يې ځان سختو کارونو ته ورکړی دی څو د دې ټولې غوښتنې پوره او په ارام ذهن خپلې زده کړې وکړي. نوموړې وايي، د بريا راز يې د کورنۍ ځانګړې توګه د مور ملاتړ او له زده کړو سره د دې شخصي علاقه ده. شمسيه چې د دولت له لوري ورته په بهر کې د زده کړو وراندېز هم شوی دی وايي، هيله يې وه چې ښه ډاکتره شي او هېوادوالو ته خدمت وکړي. نوموړې څرګنده کړې، بهر کې له زده کړو وروسته به بېرته خپل هېواد ته راځي څو د دې ځورېدلي او کړېدلي ملت د درد دوا شي. شمسيې د ۱۳۹۹ کال په کانکور ازموينو کې د ۳۵۳.۱۸۵ نمرو په اخيستو سره لومړی مقام خپل کړی او د کابل طبي پوهنتون معالجوي طب ته بريالۍ شوې ده.»

"سپوږمۍ راډيو"

دا ټول ښيي چې عام خلک په تېره نوی نسل په خپلو منځو کې او خپلو زړونو کې هېڅ ډول کرکه نه ساتي او لکه صميمي ټولګيوال او همکاران او نږدې خپلوان خومره يو دبل په بريا باندې خوښېږي او يو بل ته مبارکيانې ورکوي چې همدا شمسيه يې ډېره غوره او ښه مثال دی.

د بريالۍ شمسيې په نامه ځينو سياسي او توپکي اشخاصو هم د مبارکۍ پيامونه خپاره کړي دي. په دې پيامونو کې له ورايه ښکاري چې دوې غواړي ټولنې ته وښيي چې دوی په هر څه کې فعاله او مطرح اشخاص دي او د زدکړو پلويان دي؛ خو دوی ته بايد ووېل شي چې تاسو د زدکړو پلويانو او بريالیو ځوانانو ته تبرکيانې مه لېږئ، تاسو د پوپک شپېلۍ غلي کړئ، وينې تويول ودروئ، خلک ارام ژوند او زدکړو ته پرېږدئ. تاسو که د زدکړو پلويان وای او د زدکړو په ارزښت پوهېدلای، په خپلو اولادونو به مو زدکړې کړې وای چې وطن او خلکو ته يې د خدمت او درناوي فکر په سر کې پيدا شوای وای، ستاسو اولادونه اوس په داسې حالت کې دي چې عادي خبرې نه شي کولای.

شمسيې د بي بي سي له سيما سلطاني سره په يوه **مرکه** کې په روانه پښتو ژبه خبرې کولې او دا يې وښوده چې دې له خپل وطن او وطنوالو سره د مينې او لا تفاهم په خاطر پښتو هم زدکړې ده او که دا خپلې زدکړې بشپړې کړي، نو کولای شي د افغانستان د ټولو خلکو په ژبو پوه شي او ټولو خلکو ته د وطن په هر ګوټ کې د خدمت جوګه شي. خو په بله څنډه کې د ټوپکوالو او جنګ پلوه افرادو اولادونه چې په ناز و نعمت او د لوړو او ښو امکاناتو په دايره کې رالوی شوي دي او د هر راز زدکړو امکانات ورته چمتو وو، عادي خبرې نه شي کولای. دا لاندې متن يې د خبرو ليکلې بڼه ده:

«که ده اينجه جناب از اينجه از اميالی بګوييم از طريق رسانه يک چيزه که بګوييم اِی خط سرخ ماس شما يګان ګروه، طالبا، دوستا اِی ما بګوييم که دوستای ما بګويه اِی خط سرخ ماس از طريق تلويزيون بګوييم ازی خاطر خوبتر است که ده اينجه که جم ميشيم که بانيم که اول که کل دوستا ده اينجه شيشته شيسته که خطای سرخشانه روبروی بګوين او وخت ما تصميم خوبتر ګرفتګی استيم از طريق رسانه بګوييم ممکن که مزه نکنه که ده اِی خوب استه که ده ای شيشته و مذاکره بين البين اِی ګپا ګفته شوه»

د پوهنتونونو د هرکال د آزموينو پايلې دا ښيي هغه خلک چې له زدکړو سره مينه لري، په کوم لوري روان دي او هغه خلک چې هر څه په موهوماتو پورې تړي، په کوم لوري روان دي. د زدکړو او تعليم راتلونکې څه ډول ده او


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په ځير و لولئ

د نه تعليم پايله به څه وي. دا چې د تعليم د نه کولو دلايل يې څه دي د ښاغلي نعمان دوست دا لنډ نظر به را واخلم چې له عيني واقعيتونو سره ښه اړخ لګوي:

«نن سبا ځينو مقرريوو سره تضادونه ښودل کيږي، که تضاد د يو چا د وړتيا او د هغه/ هغې، د کاري بګراونډ له مخې وي، نو دا د يوه ولس بيداري ښيي. او که نور ملحوظات ولري نو خبره د اندېښنې وړ ده.
په هر صورت؛ له دې يو بل خطرناک ناورين را روان دی (هيله ده زما دا وړاندوينه غلطه ثابته شي) او هغه دا دی چې:

په ګڼو سيمو او که روښانه ووايم د يو خاص قام په سيمو کې په شدت جګړه روانه ده. دا جګړه د ځينو لپاره اعتياد دی، د ځينو لپاره معنويات دي، د ځينو لپاره د درامد ذريعه ده او...

دليل که هر څه وي، اصلي خبره دا ده چې کلونه وروسته به دا سيمې له لوستي قشره محرومې شي، لوړو او تخصصي زده کړو ته به لاسرسی پيدا نکړي، نتيجه به دا شي چې اينده کې به د بل قام، بل مذهب، بلې ژبې، بلې جغرافيې اوسيدونکي پرې حکومت کوي او دا د دوی حق دی. ځکه زده کړې به يې کړې وي، وړتيا به يې لري؛ خو ځايي خلک به نيوکې کوي چې ته به قامي او مذهبي رنګ ورکوي او مخالفتونه به کوي.

و خلکو!

هغه وخت به دا مخالفتونه هيڅ نتيجه ورنکړي. که روښانه راتلونکي غواړئ د هغه څه پر ضد مبارزه وکړئ چې تاسو له زده کړو محرومويي.»

د شمسيي بريا او د ټولو خلکو په تېره د ځوانانو او نوي نسل غبرګونونه له ځانه سره دا زيرى لري چې همدا نوی نسل کولای شي چې د ټوپکي مشرانو له خوا د عامو خلکو په منځ کې د قوم، ژبې او... په نامه د نفاق د شيندلي او کرلي تخم بيخ او زړي ببرته راوباسي او دې بوټي ته د پوهې له مخې او د زدکړو په دايره کې اور ورواچوي.

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ